مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسور عبدالخالق رشید
۲۰۲۰/۰۷/۲۶

## د

## «پښتانه ښځګه خپله پښتو پردی کوي»

## په وړاندې دوی لنډې یادونې!

**ګران داکترستانیزي صاحب ته سلامونه اودرناوي !**

دیوه استاد په توګه زه نه پوهیږم چې تاته دسیاسي علومو استاد induction وایم که د ژبپوهنې ؟ دواړه خو دعلمي اواکادمیکوپرنسپونواومعیارونوله مخې نه شم درته ویلای، ځکه چې په نړۍ کې هغه هم په یوویشتمه پیړۍ کې دتخصص چرګ په یوه پښه درېږي نه په دوو....
ستاسې مقاله مې ولوسته، چې له ښه مرغه اوکه له بده مرغه چې نه ژب ښوونه وه ، نه ژب پوهنه وه اونه هم ژب څېړنه وه، په علمي لحاظ خوپه کارخوداوه چې خپلودغو نصحت ډولو خبرو ته موپه یوه علمي څېړنه کې چې د ژبپوهنزواوسنیومیتودونوپه رڼاکې مو دژبې په یوه ژبنۍ برخه کې څېړنه کړې وای، زما مشوره هم درته داده چې که رښتیاهم ژب پوه یاست نوپښتو، پختواوپشتوته په یوه علمي او کوټلي کارباندې لاس پورې کړئ. دغه سیاسي ناندرۍ چې نن سبا زموږپه وطن کې را تورول شوې دي،له دغونه څه جوړېږي اونه به کومه ټاکونکې پایله موږ اوتاسې ټول ترې ووینو...
،ګرانه ډاکتره، تاسې له افغانستانه دباندې اوپه ټوله کې له ختیزې علمي حوزې څخه ډېرلرې یاست اوپرهغو عینی حقایقو باندې چې دلته روان دي یاداچې خبرنه یاست اویاهم داچې ځان ترې تیروئ، کومه طرحه چې تاسې په خپله څېړنه کې خوندي کړې، هغې ستونزې ته پاتې کیږي چې زموږ پښتوژبي اویا فارسي ژبي وطنوال چې بیلې ژب ویونکې میرمنې اویا خاوندان دګډ ژوند په لومړیوکې په کورنې چاپیریال کې ورسره مخامخ دي، میرمن فارسی ژبې اوخاوند پښتوژبی اویاهم برعکس،چې دغه ستونزه بیا په راتلونکی نسل کې خامخا پریوه خوا روانیږي، یوه ژبه یامورنۍ اویا پلرنۍ له لاسه ورکوي، ماته ستا ددرنې مقالې په اړه هم خبره همداسې ښکاري، ځکه چې مقاله موټوله پرهمدغه درد چې په رښتیاهم انکارنه کیدونکې مساله ده راڅرخي چې زه په ټوله کې ستا له وړاندیزونوسره په دغه برخه کې یوه خوله یم. خوکاشکي مودغې ستونزې ته دیوه ژبپوه ډاکتر( که رښتیا یاست، ځکه ما ستا ټولنیزې اوتاریخي شخړه ییزې مقالې لوستې دي) په توګه یوعلمي اومسلکي کارکړی و، زه اوکیدای شي تاسې هم په دغه برخه پرنصحتونوباندې باورونه لرئ ...
زما سره ستا په عالمانه مقاله کې ترټولو لویه پوښتنه داده چې تاسې دتمدن اونیولوجیزم نومونه اخستی دی، اوپه دغه اړه مو په خورا بې رحمۍ سره داخبره یاده کړې چې:« پښتو نه علمي ژبه ده، نه تمدني، نه مذهبي او نه بین المللي. پښتو د تعصبي نیولوجیزم لپاره ظرفیت نلری. نو که دغه راز نیولوجیزم په پښتو ژبه باندی تحمیلیږی، له نورو نیمګړتیاو سره سره چې اشاره ورته وشوه، نه یوازی یې د کلماتو ذخیره محدوده کیږی، بلکه هغه کلمات چې «اختراع» کیږی د عوض شویو کلماتو د معنا د مختلفو ابعادو ظرافتونه او لطافتونه نشی افاده کولای .... » ( ستاسې مقاله په تاند کې )
لومړی خودتمدن په برخه کې دا له انصافه لرې خبره ده چې پښتوموپه ځلورکتابه له انساني ټولنیزجوړښت اودانساني تمدن له تاریخه ایستلی ژبه بللې ده، دابه انصاف نه وي چې یوقام چې د بشري تاریخ په ټولو لیکنوکې له هیرودتسه را نیولی بیا ترهندي اوچینایی سرچینوپورې یې یادونه کیږي، دا به څه ډول انسان وي چې داسې یولوی انساني توک له انسانیته باسې او دیوه غیزمذهب اوبی تمدنه وحشت په دایره کې یې راښکیلوئ... په دغه طرحه مو بیاځلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کتنه وکړئ داخبره مونه علمي  بڼه لري اونه يې يوڅوک (انسان ) درسره منلي شي برعکس زه باورلرم چې داډول بې اساسه وينې ددې لامل کيږي چې خدای مه کړې څوک تا، ستا سې په وينا په يوه امپرياليستی متمدنه ټولنه کې ديوه وحشي موجود په توګه ياد نه کړي څکه چې که انسان هرڅومره بې رحمه اوبي عاطفې شي داسې سرايله خبره ديوه انساني توک اوټولنې په اړه نه کوي... ژبه چې کله رامنځ ته شوې، له هغې سره سم تفاهم رامنځ ته شوی، ټولنه جوړه شوې اوانسان دهغې په مرسته دژوند تګلاره (تمدن ) دخپل طبعي چاپيرياِل په پام کې نيولو سره رامنځ ته کړی دی...  ته خوشکرپه ژبخوره ژبه انګريزي هم پوهيږئ، آيا ستاسې دغه بې رحمه  يادونه دتمدن له دغه تعبيرسره دښکرپه ښکرکيدومانا نه لري ؟ ويې ولولئ :

Etymologically, the word civilization relates to the Latin term *civitas*, or "**city**", which is why it sometimes refers to urban state-level societies, setting aside the nomadic people who lack a permanent settlement and those who live in settlements that are not considered urban or do not have a state-level organization. Sometimes it can be used as a label for human societies which have attained a specific degree of complexity. In a wide sense, civilization often means nearly the same thing as culture or even regional traditions including one or more separate states. (https://www.ancient.eu/civilization/)

خوره ډاکترصاحبه، زموږ له پاره داخبره د بشپړې هيښتيا وړده چې تاسو پرته له هرډول تقدس اوعاطفې په يوه ژبه، په يوه قام او په يوه انساني څواک باندې د غيرمتمدن اوانساني ارزښت نه لرونکي څواک ټاپه وهلې، داسې ټاپه چې ستا ټول علمي ليد او وړانديزونه ترخپل سيوري لاندې راولي .ته پردې ټکي باورولره چې ستاسې په وړاندې داځواب په ډيرجرآت سره رامنځ ته کيدای شي چې:  نه پښتانه اونه يې ژبه غيرمتمدن ، غيرمذهبی اوغير نړيوال دي، کوم مذهب وچې پښتانه په هغه کې په تيره بيا په آسيا کې مخکښ نه وو؟ په هندويزم کې ويدي سندرې د دوی مخلوق دي، بوديزم په تبليغی اوتيوريکي لحاظ دوی نمانځلې اوپاللي ( مليندآ پنهو ولولئ ) اوترفارس اومرکزي آسيا پورې د دوی په مټورسيدلی دی... ډيره  د درد او افسوس خبره ده چې يوپښتون پوه تراوسه پردې نه پوهيږي چې دده ژبې، دده خلکوپه لرغوني ، منځنۍ او اوسنۍ آسيا کې کوم تمدني، مذهبي اوتفاهمي دريځ درلود اويايي اوس لري... زه هيله من چې تاسوپه ظالمانه توګه پښتوژبه دعربي اوفارسي په وړاندې قرباني نه کړئ ، فارسی ژبه ټوله عربي ده، دعربي ژبې له مرستې پرته څوک يوه جمله هم نه شي ورته جوړولای،دا ستونزه يومهال نه وه، خوبرعکس پښتوکه د اماتورو ليکوالو منګولوته ونه لويږي، بشپړباوردی چې ترډيرې کچې دعربي اوفارسی له مرستې پرته په خپلو پښودريدای او ويل کيدای شي. بله مهمه خبره داده چې زه پښتواوفارسی ديوه قام اويوملت ژبې بولم، دا دواړې زما ژبې دي، په دواړو کې زما وياړونه خوندي دي، هرڅوک چې پښتواوفارسی د بيلو قوموژبې بولې هغوی په دغه توپيرسره علم په حماقت باندې خړبوي، اوخپله ناپوهي دتعصب په بڼه څرګندوي،موږ له فارسي ژبې هرډول پوراخستلای شواوهم يې ورکولای شو،زه پردې هم باورلرم چې پښتوژبه کولای شي فارسي د عربي له ښکيل اوزندان څخه په خورا اسانۍ سره  له يوې خوا راوباسي اوله بلې خوا يې وژغوري، موږ بايد د اندواريانې ژبو تاريخی اوپرتليزعلمی ميتود ته هم په ځيرکۍ سره وګورو، تاسې په دغه برخه کې بايد په داسې بې رحمۍ سره چنګيزډوله حکم نه وای کړی ... په ديره خواشينۍ سره بايد ووايم چې تاسوته له بده مرغه پښتوژبه په خپل ټول پرتم سره ( دګاونډي ګړنګنه لور ښکاره شوې ) اوپه بې رحمۍ سره مويې په ټولو ښيګړواوارزښتونوباندې سترګې پټې کړې دي... چې باوردی پر دغه لنډه منډه به کله هم لويه ګټه ترلاسه نه شئ کړای...

**دغې بلې ته دې هم پام را اړوم هغه داچې :**

تاسې دنيولوجيزم خبره ليکلې ده ، دمهربانۍ له مخې راته ووایاست چې په پښتوکې نيولوجيزم چيرې اوڅنګه  دی؟ ماته به پوهاند زيارمثال نه راکوې، څکه تاسې له هغه سره لکه چې په مقاله کې مواشاره ورته کړې لوری نيولی دی، زه بل نسل يم، دغه چې په ليکنه کې مې ګورې  که تاسې پښتوشته لغتونه چې په دغه ژبه کې شته دي، اواکثريت پښتانه هغه په کليواوباندو کې وايي اوپه ورځنۍ ژبه کې يې کاروي او هغه بيا دعربی اوفارسي لغتونوپرځای کارول ګناه بولئ، داخوعلمی خبره نه ده، اونه تاسې دا حق لرئ چې ددغې لرغونی ژبې په اړه دا لنډه منډه وکړئ اوخپله غيرعلمي طرحه پرموږ باندې په غيرعلمي توګه ومنئ ، راځه ستاخپله ليکنه د ددغې مقالې دلوستونکو په مخ کې دقضاوت په پارکيږدو،دوی بايد خپل قضاوت وکړئ چې موږ دا حق لرو که نه چې خپل عادي اودود ژوندي لغتونه پريږدواوپرځای عربی اوفارسی لغتونه وکاروو ستا خپله ليکنه داده : « نه يوازی يې د کلماتو ذخيره محدوده کيږی،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بلکه هغه کلمات چي «اختراع» کېږی دعوض شويو کلماتو د معنا د مختلفو ابعادو ظرافتونه او لطافتونه نشی افاده کولای ....»
دخدای له پاره اوخلکو، په دغه ليکنه پښتوراوښياست ؟ کوم يوجوړښت يي پښتودي ؟ آيا يوعادي پښتون پردغه عبارت « دعوض شويو کلماتو د معنا د مختلفو ابعادو ظرافتونه او لطافتونه نشی افاده کولای ....» باندې پوهيږي ؟ زه څنګه دداسي يوه نيمګړي ليد؟ سره دا ومنم چي زما پرپښتولغتونوځوک نه پوهيږي،هغه نعصبي نيولوجيزم ؟ بولي اوپردي لغتونه چي زه نه پرې پوهيږم پرما زغمي اوتحميلوي ...
ګرانو لوستونکو، زه دښاغلي ډاکتر همدغه ليکنه په ساده پښتو درته ليکم، تاسي په دغه برخه کي خپل قضاوت دخدای له پاره وکړئ نه زما اوپښتو ژبې له پاره ؟ زه دده ليکنه په عادي پښتوکي داسي ليکم :« نه يوازې يي د وييونويالغتونوزيرمه تنګيږي، بلکي هغه ويي يالغتونه چي نوي رامنځ ته کيږي د اړول شويو لغتونودمعنی دبيلابيلواړخونو نازکی اونرمی نه شي څرګندولای ... » داچي دډاکترصاحب عبارت اصلاً دپښتوژبې په جوړښت برابرنه دئ ليکل شوی هغه زما ګناه نه ده...
په دغه اړه په علمي ژمنتوب سره ويلای شم چي ( وييی يا لغت ) له ننه زرګونه کاله دمخه له (ليکل ، ليکنها ) سره يوځای اسپه زي،پانيني له خپلي مورنی ژبې پښتو څخه سانسکريت ته ورکړی چي تراوسه په ټولوهندي ژبو کي (ويي کرڼا – ګرامر) په همدغه پښتوبڼه ويل کيږي، همدغي ژبې چي دامريکايي پوهنتون ښاغلی ډاکترصاحب يي په ناخبرئ سره په باره کي ليکي :« پښتو نه علمي ژبه ده، نه تمدني، نه مذهبي او نه بين المللي.» څومره دردونکي اوله انساني علمي منطقه لرې احساس ؟؟؟
په هردول، زه حيران يم چي زموږ يوځوک چي خپله په پنځوس کلني اوشپيته کلنی کي په امريکا يي ټولنه کي خپل ويښته رنګوي، زوړسړی ځان ځوان ښيي او په دې نه پوهيږي چي دغه د وېښتورنګولوتمدن ؟ امريکاته له کومه ورسيد ؟ چا امريکا ته وروښود؟ زموږ ډاکترصاحب لاهم د سوی په خوب ويده دی، دتمدن معيارامريکا ورته ښکاري،هم هغه امريکا چي په دغو وروځوکي دهري ورځې په اوږدو کي زرګونه انسانان هلته په کرونا اخته اومړه کيږي اودوی يي چاره نه شي کولای ؟ که تمدن همدغه ناتواني وي، نوتردغومتمدنو انسانانوخو زموږ حکيم جيان چي درملنه په پياز‌و او وړه کوي ماته متمدن برېښي...
ښاغلی ډاکترصاحب ، که له ښکرپه ښکرخبرودي راتيرشو،دايوه ګل خبره دي هم ديادولووړده، خوډريغه چي دغه خبره دی دخپلي مقالي په پيل کي په بې غرضه توګه کړې وای چي:« د نويو کلماتو او علمي اصطلاحاتو جوړول بايد يوازې د پښتو ټولنی په شان يوې باصلاحيته علمي ټولني ته وسپارل شی ... » دغه علمي يادونه دي دا په ډاګه کوي چي ته دنيولوجيزم، هغه چي ديوې ټولني له خوا وي مخالف نه يې ، يوازې دهغه نيولوجيزم مخالف يې، هغه چي جرمن زده کړي پوهان يي ترسره اورامنځ ته کوي ؟؟؟
خدای دې تا راته لرې !

درناوی

پروفيسورعبدالخالق رشيد دنهروپوهنتون
د ژبو، ادبياتواوکلتورپوهنځی د پښتوڅانګي استاد

د ۲۰۲۰ کال د جولای ۲۴

rasidan_g@yahoo.com



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ